پوهندوی آصف بهاند

# د شربت ګلې د ژوند سفر

# افغان مونالیزه په ایتالیا کې



شربت ګله داسي یوه افغان مېرمن ده چي دا لا کوچنۍ وه چي په کلي، کور، ښار او وطن کي يي د جګړې اور بل کړای شو او دا د خپلي کورنۍ له هغو غړو سره ـ چي ژوندي پاتي وو ـ یوځای بل وطن ته ګډه کولو ته اړ ایستل شوه. د مهاجرت د لالهانده ژوند پر مهال د مهاجرو د خړو کمپونو په کوڅو کي د نشنل جغرافیک عکاس ستیو مک کوري ته په مخه ورغله او هغه د فوتوژورنالیزم د اصولو له مخي یو عکس ځیني واخیست او د «نشنل جغرافیک» مجلي پر لومړي مخ يي چاپ کړ.

د شربت ګلي د سترګو ښکلا او د جامو او ويښتانو طبعي حالت، د شربت ګلي عکس نه داسي عجوبه جوړه کړه چي ټوله نړۍ پرې خبره شوه، هرچا به هر چېرې هيله کوله چي دا عکس په خپل کور کي راوځړوي او په دې ډول ساده پياده افغان سرګردانه بي کوره مهاجره، د خپلو سترګو د جادو له برکته په نړيواله ځبره بده شوه او د افغان مونالیزه لقب يي وګاټه.

ما (آصف بهاند) پخوا د شربت ګلي په باب دوه مطلبه خپاره کړي دي:

ـ نورو ته شربت ګـله، ځانته زهر ګـله،

ـ اروپايي همځولي.

د لوموني مطلب په یوه برخه کې داسې راغلي دي:

«له هغې ورځې نه چې نشنل جغرافیک مجلې د شربت ګـلې عکس چاپ کړ، ډیرو کورنیو او بهرنیو قلموالو د شربت ګـلې او د هغې د عکس په باب لیکنې وکړې. زه هم کله، کله دې ته هڅیدلی یم چې څه ولیکم، خو د لیکنو او نظریاتو د ډیروالي په وجه به د شربت ګـلې په باب خپله سوژه او یا د لیکنې موضوع را ته پیکه ښکاره شوه او بیا به ورنه تېر شوم؛ خو اوس پر شربتې باندې خپلو سترګو او خپل شهرت، د سیاسي حالاتو په کش و ګـیر کې داسې څه راوستل چې خوږه شربته یې د زندان تیارو ته ور پورې وهله.

زه به د شربتې په باب د رنګارنګ نظریاتو، راپورونو او مقالو په اړو دوړ کې خپله هغه کیسه ولیکم چې ما چیرې او څنګه د شربتې همدا مشهور عکس ولید:

د ۲۰۰۰ ام کال دسمبر و چې د مهاجرتونو د ډیرو ستړیاوو په پای کې ډنمارک ته ورسیدم، نوم مې لکه د چا خبره په پنسل ولیکل شو. د ډنمارک د کوپنهاګن د مهاجرو له مرکزي کمپ نه یوه بل واړه کمپ ته چې د ډنمارک په شمال کې، د فریدریکس هاون (frederikshavn) په ښار کې پروت و، ولیږل شوم.

نا مالومې راتلونکې او د تر ډنمارک پورې د رارسیدو خواریو، داسې ستړی کړی وم چې درې ورځې له کمپ نه د باندې و نه وتلم. په ټکي ډنمارکي نه پوهېدم، نه لاره را مالومه وه، نه کوڅه او نه هم ښار.

درې ورځې وروسته مې له یوه افغان سره له بلدیدو سره سم، له هغه نه هیله وکړه چې:

ته خو به لږ بلد وې، که ما سره مرسته وکړې!

هغه و ویل چې سمه ده، څه درته وکړم؟

ما ورنه هیله وکړه چې له ما سره یو وار تر ښاره پورې لاړ شه، که په دې ښار کې کتابتون وي، هغه را وښیه. هغه په ډېرې مهربانۍ را ته ویل درځه!

کله چې ښار ته ورسیدو، له ما سره تللي آشنا یوه ودانۍ را وښوده او را ته وې ویل چې:

دا د همدې ښار کتابتون دی.

چې په دروازه ور ننوتم، که ګـورم چې شربت ګـله ولاړه ده.

دا غلې او بیځانه ولاړه وه، خو سترګو  یې خبرې کولې، زه یې هم په خبرو پوهیدم چې دا په سترګو کې څه راته وایي. مخامخ ورته ودریدم، شربتې ما ته کتل او ما هم دې ته کتل، تا به ویل چې د میدانښار د دادل درې د کوم کلي په یوې تنګـې کوڅې کې په مخه راغلې ده. ما غوښتل چې څه ورته ووایم، خو چې پام مو شو زه تش کاغذ ته ولاړ وم. دا د شربت ګـلې تر ټولو لوی چاپ شوی عکس و.

را سره راغلي آشنا راته غږ کړل چې راځه کنه چې له کتابتون نه د استفادې له پاره دې نوم راجستر کړو!

ما ویل چې دا جلۍ افغانه ده.

هغه را ته کړل:

چې اشنا د افغاني عکس به څوک دلته بندوي، راځه چې ځو او...

په تلو ـ تلو کې مې بیا هم د سترګو له کونجونو ورته کتل او د زړه په خزان شوي بڼ کې مې له توندو بادونو سره دې لنډۍ غږ کاوه:

## ته دې د سترګو شربت راکړه
## زه د هجرت تورو تیارو ځپلی یمه

کلونه واوښتل او اوس ټول په دې پوهېږي چې د مهاجرت په سره اور کې اوسېدل څومره ګران دي او شربت ګـلې د ماشومتوب له څو کلونو پرته، نور ټول د سره انکار په همدې بټۍ کې تیر کړل. ماشومه وه، پېغله شوه، مېرمن شوه او بیا مور شوه. د شربت ګـلې نوم، د شربت ګـلې عکس او بیا په عکس کې یې جادویي سترګې د ټولې نړۍ او ټولو هیوادوالو له پاره د خواږه شربت یو جام شو؛ خو په خپله د دې له پاره او د دې د کورنۍ له پاره د زهرو جام شو او د زهرو دغه جام پاکستاني استخباراتو لومړی پر دې، بیا یې پر کورنۍ او بیا په ټولو افغانانو باندې وچیکه.

د سیاسي ناندریو په لړ کې دا دی پاکستاني استخباراتو نه بله لاره ورکه ده اوس مو له خوږ ګوتې نه نیسي او لکه لیوني سپي هرې خوا ته خولې اچوي، لکه زخمي مار په هرڅه باندې خوله لګوي او په هر ډول چې وي افغان باید و زورول شي، د زوورولو نوی چم یې د شربتې نیول او بندي کول دي او...

دویم مطلب زما یوه ځلوریزه ده چې شربت ګلې ته مې لیکلې ده او له یوې وړې تبصرې سره مې خپره کړېده. دا یې متن دی:

### اروپايي همځولې

د نړۍ په ډېرو ښارونو کې، د ګڼو مناسبتو په پار په نندارتونونو کې د شربت ګلې دا مشهور عکس ننداژې ته وړاندې شوی دی. په لاندې عکس کې یوه بهرنۍ، چې ښایي هځولې به یې وي، د شربتې د عکس ننداړې ته ولاړه ده او په زړه کې ورته وایي: «آخ چې تــه زما، زمـوږ وای شـربت ګلې!»



ما (اصف بهاند) د عکس په لیدو سره دا ځلوریځه ورته ولیکله:

### اروپايي همځولې

آخ چـې تــه زما، زمـوږ وای شـربت ګلې!
روح دې وسه، هـډ دې وسه، غـربـت ګلي

دواړه سترګې دې د دوه عالم کيسې کړي
ژوند دې ټول تېر په وسواس او هيبت، ګلې

۲۰۱۹/۰۱/۰۸
هېدرسليف
ډنمارک

که څوک غواړي په لنډ ډول شربت ګله وپېژني، نو دا يې لنډه بيوګرافي ده:

شربت ګله غالباً په ۱۹۷۲ م کې زېږېدلې ده، مور او پلار يې په جګړو کې وژل شوي دي، دولس کلنه به وه چې د نيا په مرسته له خپلو خويندو ورونو سره مهاجره شوې ده او په ناصر باغ کمپ کې يې ژوند غوره کړی دی.

ښايي د تصادف له مخې د هماغه کمپ په کوڅو کې د نشنل جغرافيک عکاس ستيو مک کاري سره مخ شوې، هغه يو عکس ورنه اخيستی دی او د ۱۹۸۵ م کال په اوړي کې يې د نشنل جغرافيک مجلې په لومړي مخ کې چاپ او خپور کړ. د شربت ګلې عکس د نشنل جغرافيک مجلې په خپرو کړو عکسونو کې تر ټول مشهور عکس شو.

شربت ګله په ۱۹۹۲ م کال بېرته افغانستان ته ستنه شوه. د شربت ګلې د عکس عکاس ستيو مک کري په ۲۰۰۲ ام کال کې يو ځل بيا د شربت ګلې لټه پيل کړه،



او د افغانستان په ختيځ کې، په يوه کلي کې يې پيدا کړه. دا وخت شربت ګلې واده کړی و او د دريو اولادونو مور وه.

په ۲۰۱۶ ام م کال پاکستاني پوليسو د پېژند پاڼې د جعل په بهانه ونيوله او په هماغه وخت کې رحيم الله يوسفزي د دې د نيولو په برخه کې داسې وويل:

«دا کار باید نه وای شوی. ډېری پاکستانیانو او افغانانو له قانون نه غاړه غړولې ده، خو دا یوه ښځه ده، ماشومان یې واړه دي، په نړۍ کې یوه پېژندل شوې څېره ده، په تېره بیا په امریکا کې، زه داسې فکر کوم چې دا ښځه باید افغانستان ته ولېږل شي.»



پاکستاني مقاماتو شربت ګلې ته د پنځلس ورځو زندان او  بیا خپل هېواد ته د ستنولو جزا وټاکله. تر دې پېښې وروسته کله چې کابل ته ورسېده، د وخت جمهور رئیس اشرف غني یو کور ورکړ او د اولادونو د زدکړو او د دې د درملنې وعده هم ورسره وشوه.

د شربت ګلې د ژوند ډېره برخه د مهاجرت کمپونو کې په خواره او محتاجه بڼه تېره شوه کله چې بېرته خپلې ځالې او وطن ته راستنه شوه، تر څه مودې ارامتیا وروسته یو ځل بیا یې پر کلي، کور، ښار او وطن باندې د نادودو سیلاو وربرابر کړی شو او لکه ټکه چې لوېدلې وي، هر څه تالاترغه شول، بیا د تېښتو بازار تود شو او د مهاجرتونو او بېځایه کېدو هنګامه جګه شوه او په دې لړ کې د شربت ګلې د بیا مهاجرت غږ شو او دا وار ته وویل شول چې شربت ګله ایتالیا ته رسول شوې ده.

څو ورځې مخکې په ایتالیا کې په ناڅاپي ډول د افغان مونالیزه یا شربت ګلې را څرګندېدل، په میډیا کې یو شور جوړ کړ او په بېلابېلو بڼو یې د ایتالیایي مقاماتو له خوا په ایتالیا کې د شربت ګلې منل منعکس کړل.

دلته به د شربت ګلې د بیا ځلې مهاجرت رپوټونو ته ـ چې په څو معتبرو ویبپاڼو کې راغلي دي ـ نظر وکړو:

تاند ویبپاڼې داسې ولیکل:

«د ایتالیا صدراعظم وایي، شربت ګله یې له افغانستانه وایستله




تاند (پنجشنبه، د قوس ۴ مه) له افغانستان ښځه د مطرح او مشهورو کسانو د ایستلو په لړ کې د نشنل جیوګرافیک مجلې پر پښتۍ د مشهور عکس خاونده شربت ګله هم له افغانستانه وایستل شوه او ایټالیا ته ورسېده.

دا خبره د ایټالیا حکومت نن (پنجشنبې) اعلان کړه.

د ایټالیا د صدراعظم ماریو دراګي دفتر وویل، ایټالیا وروسته له دې د شربت ګلې په ایستلو کې مرسته وکړه چې هغې له افغانستان ښځه د وتلو په برخه کې مرسته وغوښته.

شربت ګله په ۱۹۸۴ م کال، چې د پېښور ښار په لمنه کې د کډوالو په یوه کمپ کې اوسېده او نامتو عکاس مک کارتي یې عکس خپور کړ، په درسته نړۍ کې مشهوره شوه.

دا عکس د نشنل جیوګرافیک مجلې پر پښتۍ چاپ شو.

مکارتي په ۲۰۰۲ م کال بریالی شو چې شربت ګله بیا ومومي.

په ۲۰۱۴ م کال دا په پاکستان کې وه خو وروسته له دې چې پاکستاني چارواکو پرې تور ولګاوه چې د دغه هېواد جعلي اسناد یې جوړ کړي، د افغانستان د حکومت په غوښتنه کابل ته واستول شوه او پخواني ولسمشر اشرف غني په کابل کې د استوګنې لپاره اپارتمان ورکړ.»

بي بي سي پښتو بیا داسې ولیکل:

**«د زرغونو او هېښونکو سترګو لرونکې شربت ګلې ته ایټالیا پناه ورکړه:**

د زرغونو او هېښونکو سترګو لرونکي شربت ګله چې د افغانستان د رواني غمیزې سمبول ګڼل کېږي، ایټالیا ته رسېدلې او د هغه هېواد حکومت پناه ورکړې.

شربت ګله هغه مهال په نړیواله کچه مشهوره شوه چې مشهورې رسنۍ نېشنل جیوګرافیک په ۱۹۸۵ کال کې د هغې انځور پر خپلې مجلې خپور کړ. هغه مهال شربت ګله ۱۲ کلنه وه.

د پنجشنبې پر ورځ د ایټالیا لومړي وزیر ماریو دراګي دفتر وویل، شربت ګله د دغه هېواد پلازمېنې روم ته رسېدلې ده.

د لومړي وزیر دفتر په یوه اعلامیه کې ویل شوي، د اګست له پېښو 'په افغانستان کې د طالبانو له واکمنېدو ' وروسته یو شمېر مدني فعالانو له ایټالیا حکومته غوښتي و، چې له شربت ګلې سره له هېواده وتلو کې مرسته وکړي.

په اعلامیه کې ویل شوي، د ایټالیا وزیرانو شورا او ولسمشرۍ ریاست افغانانو ته د پناه ورکولو او هلته مېشتولو پروګرام له مخې هغې ته له هېواده د وتلو زمینه برابره کړه.

۱۹۸۵ کال کې د شربت ګلې خپور شوی تصویر چې د ماشومتوب پر مهال ترې د نېشنل جیوګرافیک مجلې عکاس سټېو مککرۍ اخیستی و، دې ته نړیوال شهرت ورکړی او له دې یې د افغانستان تر ټولو مشهوره کډواله جوړه کړه.

پاکستاني پولیسو شربت ګله په دې تور نیولې وه چې ځان او د خپلې کورنۍ غړو ته یې د پاکستان جعلي شناختي کارت (پېژندپاڼه) جوړ کړی.

۲۰۱۶ کال کې شربت ګله پاکستاني پولیسو په دې تور ونیوله چې ځان او د خپلې کورنۍ غړو ته یې د پاکستان جعلي شناختي کارډ 'پېژندپاڼه ' جوړ کړی.

د شربت ګلې تر نیول کېدو وروسته پراخ غبرګونونه راوپارېدل، د افغانستان حکومت او په تېره پاکستان کې هغه مهال د افغانستان سفیر ډیپلوماتیکې هڅې پیل کړې.

د دې تر څنګ یو شمېرو کسانو د ټولنیزو شبکو فیسبوک او ټویټر له لارې د نوموړې د خوشي کېدو لپاره کمپاین وکړ.، چې پایله کې یې نوموړې خوشې شوه او پخواني افغان ولسمشر محمد اشرف غني یې هرکلی وکړ.

د افغانستان ولسمشرۍ ماڼۍ هغه مهال د پلازمېنې په قصبه سیمه کې شربت ګلې ته د کور ورکولو اعلان کړی و.»

امریکا غږ پښتو هم ورته رپوټ خپور کړ، دا یې متن دی:

**«ایټالیا شربت ګلې ته پناه ورکړه:**

شربت ګله وروسته له هغې مشهوره شوه چې په اتیایمه لسیزه کې د نشنل جیوګرافي مجلې پر خپل جلد باندې د دغې شنو سترګو او زړه راښکونکې څېرې لرونکې افغانې عکس خپور کړ. هغې ته اوس په ایټالیا کې پناه ورکړل شوه.

د ایټالیا د صدراعظم دفتر د پنجشنبې په ورځ نومبر ۲۵ (لیندۍ ۴) د یو بیان په خپرولو سره وویل چې ددې هیواد حکومت وروسته له هغې شربت ګلې ته د پناه ورکولو اقدام وکړ چې دغې افغانۍ د هیواد نه د وتلو غوښتنه وکړه.

د شربت ګلې تصویر د ۱۹۸۰ لسیزې په منځنیو کلونو کې کله چې هغه ځوانه وه د امریکایي عکاس سټیف مک‌کوري له خوا په پاکستان کې د افغان مهاجرو په یو کمپ کې اخیستل شوی و چې په نشنل جیوګرافیک مجله کې له خپریدو وروسته یې د زیاتو خلکو پام ځانته واړوه.

مککوري چې ددې عکس په اخیستلو یې زیات شهرت ترلاسه کړ، په ۲۰۲۰ کال کې پاکستان ته لاړ او بیا یې شربت ګله وموندله او د هغې عکس یې واخیست.

پاکستاني مقاماتو په ۲۰۱۶ کال کې ددې لپاره چې شربت ګله په پاکستان کې وساتي هغه یې د پېژندنې د اسنادو د جعل کولو په تور شاوخوا دوه اونۍ زنداني کړه. خو د زندان نه د خلاصیدو وروسته شربت ګله افغانستان ته انتقال شوه.

د افغانستان پخواني ولسمشر محمد اشرف غني شربت ګلې ته ښه راغلاست ووایه او هغې ته یې د اوسیدنې د یو اپارتمان کیلي هم ورکړه چې ژوند په کې وکړي.»

اوس به ولیدل شي چې شربت ګله به له اروپایي چاپېریال سره څه ډول ځان عیاروي، دا د مهاجرت بله ستونزمنه پوړۍ ده چې په دې عمر کې شربت ګلې ته په متمدنه ټولنه کې ورله غاړې شوه.

هرې نوې ټولنې ته چې هرڅوک ورمهاجر شي، هلته د انتګریشن یا په ټولنه کې د ورګډېدو یا ورجذبېدو پروسه ډېره ستونزمنه او له جنجالونو ډکه وي، نوې ستونزې: د نوې ټولنې نوي قوانین، نوي خلک، نوي دودونه، د نوې ژبې زدکړه، د ژوند کولو نوې طریقه، نوی چاپېریال او...

دا په خپله یوه لویه ازموینه ده او دا ازموینه هر مهاجر ته ورله غاړې ده. اوس به ولیدل شي چې شربت ګله به د دې ستونزو له ازموینو نه بریالۍ راووزي او که نورې ستونزې به ورته رامنځته کړي؟